Preview (1 / 10) - ketabton.com

Preview (2 / 10) - ketabton.com

د شیطان لښکر

بې له شکه چې ابلیس د دنیا د شیطانانو رهبر او همدا رنګه لوی شیطان ده.

د هغه پوځ تل کوښښ کوي چې د الله متعال بندګان په خپل اسارت کې راونیسې او په فساد یې اخته کړي.

د شیطان لښکر ویډیویې کڅوړه همدا مهم ټکې(شیطان څنګه انسان له ښې لارې باسي) بیانوي.

دا مهمه کڅوړه (۲۴) برخې لري.

سریزه

الحمدلله رب العالمین

لکه څنګه چې پوهیږئ زموږ او ستاسو په اوسني عصر کي د فتنو سونامیوي له هر لور څخه را رواني دي هیڅوک به له دغو فتنو څخه محفوظ پاتې نشي مګر د الله تعالی سپیڅلې بندګان هغه کسان چې پنځه وخته لمنځونه په سنت طریقه کوي قرآن او سنت یواځې په نامه نه بلکه په معنا او مفهوم پیژني له مومنینو سره زیاته مینه ساتې او د الله او د رسول «ص» له دښمنانو سره په ژبه قلم او توره دښمنې لري.

له هغه وخته چې الله په ښو او بدو پوه کړئ یم ما له کفارو څخه ګیله کړي نده زما ګیله له خغو کسانو ده چې د اسلام تر نوم لاندې د اسلام او مسلمانانو په ضد فعالیت کوي.

زه هلال تنویر د هغه هیواد وګړی یم کوم چې د تاریخ په اوږدو کې غټو غټو سپیانو حمله وربانډي کړي لکه روس،آمریکا او تر کندهار ورهاخوا شیطانستان.

نن ورځ زموږ هیوادوال په ډیر سخت حالت کې شپې او ورځې سبا کوي نه په تیر جمهوریت کې راحت وو نه په اوسنې امارت

زما پیام د اسلام او د ټولو مسلمانانو دښمنانو ته بالخصوص د افغانستان دښمنانو ته داده: د الله په نوم قسم یادوم زه او همداسې نور ټینګ مسلمانان وخت ته په تمه یو چې لږ موقع موږ

Preview (3 / 10) - ketabton.com

ته برابره شي دوی به داسې تر خاورو لاندې کوو لکه څنګه چې په عراق، سوریه، افغانستان او کشمیر کې زموږ خویندې او ورونه دوی په بمونو او ګولیو تر خاورو لاندې کوي.

کومه ویډیویي کڅوړه چې د شیطان لښکر تر عنوان لاندې مې تاسو ته په خوږه پښتو ژباړلې ډیره موثره معلوماتي کڅوړه ده او نن یې تاسو ته د کتاب په ډول وړاندې کوم.
هیله ده په غور سره یې ولولئ او تر نورو ملګرو یې هم ورسوئ.

زموږ نور آثار به هم په راتلونکې وخت کې په تلګرام کې د ځواک کتابتون لخوا نشر ته سپارل کیږي ان شاءالله.
ویاړم چې د محمد امتې یم❤️

صلی الله علیه وسلم
تل دې وي اسلام او ربښتیني مسلمین!

دغه ویډیویي کڅوړه مې له ډیره وخته په پام کې لرله چې څه وخت به وتوانیږم په خوږه پښتو یې تاسو ته وژباړم او خپلو پښتنو ته یې ورسوم تر څو له دغو ښنو او ګټورو مطالبو څخه ګټه پورته کړي.

ښایي ځینو برخو کې ګرامري تیروتنې رانه شوې وي مګر په نورو نسخو کې به دا ستونځې هم له مینځه یوسم ان شاءالله.

اوس مهال په تلګرام کې ستاسو په چوپړ کې یم.

(ځواک کتابتون)

https://t.me/zwakbook

که صورت د محمد نه وای پیدا
پیدا کړي به خدای نه وه دا دنیا

رحمان بابا

Preview (4 / 10) - ketabton.com

لومړی برخه

ولې الله متعال شیطان پیدا کړی ده؟

رښتیا دا شیطان څوک ده؟

آیا حقیقت لري؟

او که دا هسی ستاسو په ذهن کې وهم او یو تش خیال ده؟

او که دا کومه فلسفي مسئله ده؟

د قرآن کریم په اساس هو هغه (ابلیس) شتون لري، او دا یو ښکاره حقیقت ده چي یوائې تاسي هغه نشی لیدلی، هغه زموږ تر پیدایښت څخه مخکې هم ژوند کړی ده او اوس هم ژوندی ده.

دا په رښتیا چي یوه عجیبه موضوع ده، همداسي نده؟

په رښتیا چي حیرانونکې موضوع ده.

د شیطان کلمه د (شطن) له مصدر څخه منشأ اخلې یعنی ناولی او رذیل.

Preview (5 / 10) - ketabton.com

مخکي له دی چی د هغه جنسیت په پام کی ونیسو باید دا ووایم د شیطان کلمه وهغه موجود ته اطلاق کیږي کوم چي سرکښ او رټل شوی وي.

ویل کیږي چي همدا رنګه د شریر روح په معنی هم یاد شوی ده کوم چی له حق او حقیقت څخه لریتوب خوښوي.

الله متعال فرمایي هغه په دواړو حالتونو کی شتون لری(پیری ، انسان)

الانعام ۱۱۲
اوس مهال د دغي خبري ارزښت څه ده؟

ولې باید د پیری په شتون باور ولرو؟

دا ځکه چي هغوی په غیب پوري تړاو لري او غیب هغه شی ته ویل کیږي کوم چی موږ یې د لیدلو توان نلرو.

موږ او تاسو موافق یو چي الله متعال لیدلی نشو، سمه ده! هغه رب العزت په دي دنیا کی زموږ له سترګو پناه (غیب) ده.

Preview (6 / 10) - ketabton.com

همدارنګه موږ او تاسی موافق یو چی فرښتي شتون لري

مګر هغوی نشو لیدلی هغوی له نور څخه پیدا شوي دي او همدارنګه غیب کې دي او اوس خبره راغله د پیري «جن» هغوی هم د غیب (په عالم) کې دي او موږ هغه نشو لیدلی او هغوی له اور څخه پیدا شوي دي هغه اور چی لوګی نلري او تاسې نشی کولی چی هغه ووینی «لوګی نلري» او حرارت نلري خو بیاهم موږ هغه نشو لیدلی آیا همداسی نده؟

دواړه قسمه شیطانان په دي موخه فعالیت کوي چي انسانان په پلیدو اعمالو باندي اخته کړي، د پیري په شان شیطانان په داسي مهارت ستاسو په زړونو کې وسوسه کوي چي تاسو یې نه لیدلی شی او نه یې اوریدلی شی او دا درک هم نشی کولی چی دا او ها شیطانې وسوسه ده، همدارنګه انسی شیطان هرڅوک کیدلی شي حتی ستا ملګری که چیرته تاسو د خمر څښلو ته یاهم بل حرام عمل ته ترغیب کړي/وهڅوي.

لکه څنګه چي پوښتنه د ابلیس په هکله کیږي باید دا هم په یاد کې ولرو شیطان عام او ابلیس ځانګړی نوم ده.

ابلیس هم د پیریانو«جنیاتو» له ډلې څخه ده او همغه لومړنی مخلوق ده چی د الله له امر څخه یی سرغړونه وکړه.

موږ پیری «جن» نشو لیدلی مګر مخکي مو وویل هغوی د انتخاب حق لري هغوی حتی د انسان تر پیدایښت مخکي د انتخاب حق درلود او د هغوی انتخاب کله ښه وو کله هم بد، د هغوی په مینځ کې یو ابلیس ده او هغه څوک ده؟

رښتیا دا ابلیس څوک ده؟

ښایې تاسو وواياست هغه شیطان ده لکه څنګه چي په عربي لفظ کې هم ورته د شیطان کلمه کارول کیږي، مګر په لومړی کي هغه یو عابد وو، هغه د الله تعالی عبادت هومره زیات وکړ چی سربیره الله تعالی هغه پورته کړ تر هغه درجي پوري چي له نورو فرښتو سره په یو قطار کې ودریدل(مه هیروی ابلیس د فرښتو له جملې څخه نده هغه پیری«جن» ده) هغه د فرښتو په مینځ کې خپل ټول وخت د الله تعالی په عبادت کي تیرول، دا د ابلیس د عبادت وجه وه چي د هغه مقام لوړ شوی وو،
د هغه ارزښت زیات شو چي الله رب العزت پورته کړ بیا څه وشو؟

Preview (7 / 10) - ketabton.com

اممم دا یوه ارزښتناکه کیسه ده.

اوس به لږ د موضوع له اصل څخه لري ولاړ شو تر څو له ذهنونو څخه لویه تیروتنه محوه کړو او هغه داسې چې ځینې په داسې فکر دي چې ابلیس د فرښتو له جملې څخه ده، او نه پوهیږی چی فرښتي خو خطا نکوي هغوی هغه څه کوي (او کولی شي)کوم چی ورته مامور شوي دي.

نو کله چي الله رب العزت خپل غوره مخلوق پیدا کړ څوک یې پیدا کړ؟

هغه آدم (ع) پیدا کړ هغه رب العزت آدم يي له خاورو څخه پیدا کړ، اوس غواړم ووایم وروسته د آدم «ع» له پیدایښت څخه څه رامینځته شول...

الله رب العزت فرښتو ته امر وکړ چی آدم «ع» ته سجده وکړئ نو ټولو فرښتو سجده وکړه مګر ابلیس .... هغه سجده ونکړه.

اوس چی تاسو دا ولوستل باید پوهیدلي اوسی چی هغه «ابلیس» د فرښتو له ډلي څخه نه وو او نده.

تاسې که د کلماتو ظاهري معنا او مفهوم ته وګورئ(هغوی ټولو سجده وکړه مګر ابلیس) نو ښایي داسي وانګیری چي ابلیس د فرښتو له ډلي څخه ده مګر حال داچي الله رب العزت خپل کلام کي په بل ځای کي په ښایسته انداز فرمایي:

(إِلَّآ إِبۡلِيسَ كَانَ مِنَ ٱلۡجِنِّ)

الکهف ـ ۵۰

ژباړه:مګر ابلیس چي هغه د جنیاتو له ډلي څخه ده.

هغه د فرښتو له ډلي څخه نده بلکه پیری«جن» ده او له اور څخه پیدا شوی کوم چي لوګی نلري:

(وَخَلَقَ ٱلۡجَآنَّ مِن مَّارِجٖ مِّن نَّارٖ)

الرحمن ـ ۱۵

Preview (8 / 10) - ketabton.com

ژباړه: او الله (ج) پیدا کړی دی ابلیس د اور له شغلې څخه چې دود نلري.

او دا په رښتیا همغه څه دي چې ابلیس ویلي: آدم مو له خاوری پیدا کړی او زه تر هغه له غوره څیز « اور » څخه پیدا شوی یم نو زه هغه آدم ته سجده نکوم ولي؟

ځکه چي زه تر هغه غوره یم او ورته سجده نکوم (وویل ابلیس)

په دي عمل سره هغه د الله رب العزت له فرمان څخه سرغړونه وکړه او هرڅوک چی د رب العزت له امر څخه سرغړونه وکړي په رښتیا چی ځان د عذاب کندي ته غورځوي بالخصوص چي د سرغړوني لامل يي کبر او غرور واوسي... زه سرغړونه کوم ځکه چی زه ښه پوهیږم نو په دغه فعل سره ابلیس ځان د الله متعال په وړاندي په ډیر بد حالت کې واچول.

الله رب العزت هغه ابدالابد په جهنم محکوم کړ او ابلیس وویل راته مهمه نده یواځي اجازه راکړه زه له ځانه سره هغه (آدم) او د هغه اولاد جهنم ته یوسم.

څه؟؟؟ د څه لپاره؟ دا د هغه څه لپاره چی موږ هغه ته تکبر وایو.

کبر څه شی ده؟

کبر له کَبَرَ څخه اخیستل شوی او کَبَرَ د (اکبر) د کلمي مصدر ده، یواځي او یواځي الله اکبر ده او هغه تعالی له هرڅه نه لوی او لوی ده او انسان/ پیری یاهم هیڅ مخلوق دا حق نلري چي د الله په وړاندي راشی او ووایي:آه زه داسي او هاسي یم...

ته څوک يې ای مخلوقه؟ رب چي تاته کوم امر کړی هغه ومنه!

اوس مهم ټکی داده ځیني په دي فکر دي چي دا د شیطان وجه ده او د هغه په خاطر له موږ څخه گناه کیږی او بیا دا پوښتنه کوي ولي رب العزت شیطان پیدا کړی ده؟
او یا هم ولی رب العزت شیطان يې له میځه وړی نده

که يي چیرته هغه له مینځه وړی وای نن سبا به موږ په گناه نه اخته کیدو ، دلته یوه ذهني تیروتنه رامینځته شوی ده: شیطان له وسواس ماسوا بل څه په توان کي نلري.

Preview (9 / 10) - ketabton.com

د لا ډېر وضاحت لپاره پرېږده یوه پوښتنه وکړم: مخکي له دي چي ابلیس سرغړونه وکړي بل شیطان خو به شتون نه درلود؟

سمه ده؟

نو چا ابلیس ته وویل چي د الله له امر څخه سرغړونه وکړه؟

ځواب داده: مخکی له هغه کوم شیطان شتون نه درلود دا د هغه نفس وو چی هغه یي سرغړوني ته اړ کړ، تاسو دا ومنئ که شیطان چیرته شتون هم نلرلای بیا به هم موږ او تاسو نفس لرل او ګناه به رانه کیده دا ځکه چي دا دنیا د انسان او پیري لپاره د آزموینې ځای ده،ابلیس هم په دغه آزموینه کي ګډ ده ځکه چی هغه هم پیری (جن) ده او نفس لري.

نو الله رب العزت هغه شیطان پیدا کړی نه وو بلکه هغه خپله په خپله خوښه د تکبر له وجهي له ځان څخه شیطان جوړ کړ، د الله له امر څخه یې سرغړونه وکړه او ابدالابد و رټل شو او نه یواځي ابلیس بلکه ټول شیطانان په خپله خوښه د رب العزت د امر له سرغړونې سره خوښوي چي شیطانان شي او بدو کړنو ته دوام ورکړي.

بیا څه وشول؟

کله چي الله رب العزت آدم «ع» ته وویل: په جنت کي له هرڅه نه چي تاسو یې غواړی ګټه پورته کړئ/ورڅخه خوند واخلئ مګر هلته یوه ونه ده او ته به له هغه څخه څه نه خورئ (په پاتی داستان خو پوهیږی) وروسته شیطان د هغه او بي بي حوا وخوا ته راغی او هغوی یې دي ته وهڅول چی د هغي وني له میوي څخه میوه وخوري او په دغه کار سره هغوی «آدم او حوا» له هغه ځای څخه راښکته شول، الله رب العزت پوهیدل چي هغوی به له هغي وني څخه «میوه» وخوري ځکه یې همغه ونه هلته ځای پرځای کړي وه.

ما دا ټوله کیسه تاسو ته وکړه چي د اسلام په ښایست باندي وپوهیږئ او دا ژوند کوم څه نده مګر « ازموینه ».

دا ښکاره ده چي ابلیس لومړنی شیطان ده ځکه هغه د هغوی رهبر ده او ټول شیطانان د ازموینې وسیلې دي که څه هم دوی خپله په دي ازموینه کي ګډ دي.

Preview (10 / 10) - ketabton.com

▪دویمه برخه

هر انسان یو شیطان او پنځه فرښتې لري.

ابن ابي حاتم «رح» چې د احادیثو په برخه کې یو قوي عالم ده په خپل سنن کې داسې رانقل کوي چې: ابلیس دعاء وکړه یا الله! تا زه پیدا کړم تر څو د آدم د اولادونو د ګمراهی سبب وګرځم، زه به په هغوی هیڅ کوم واک نلرم مګر که ته ماته اجازه راکړې!

نو ماته دا ځواک راکړه چې د هغوی د ګمراهی سبب وګرځم... الله رب العزت ورته وفرمایل: دا قدرت مې تاته درکړ.. وروسته بیا شیطان وویل: یا الله تر دې زیات ځواک غواړم نو رب العزت وفرمایل: هرکله چې د آدم یو اولاد نړی ته سترګې پرانیزي نو یو شیطان به له هغه سره پیدا شي یعنی هر فرد چې په نړی کې پیدا کیږي یو شیطان وهغه ته نږدې ګمارل کیږي.

PREVIEW

You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

Buy this book - ketabton.com

https://ketabton.com/books/pjBzV0XLzYz

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.